دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده ګڼه

- د وزارتونو اودولتي ادارو دسرپرستۍ دتنظيم قانون
- دکانونودقانون په ځينومادوکې تعديل او ايزاد
- د سوداګريزونښو (علامو) دثبت د قانون په ځينو مادوکې تعديل، ايزاد اوالغاء
- دتدارکاتودقانون دځينومادوتعديل اوحذف
- د۱۳۹۳کال په رسمي جريده کې دخپورشوي تقنيني سندونو فهرست

- قانون تنظيم سرپرستی وزارت ها وادارات دولتی
- تعديل وايزاد دربرخی ازمواد قانون معادن
- تعديل ،ايزاد والغاء دربرخی از مواد قانون ثبت علايم تجارتی
- تعديل وحذف برخی ازمواد قانون تدارکات
- فهرست اسناد تقنينی منتشرۀ جريدۀ رسمی سال ۱۳۹۳

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۳ هـ.ش کال دکب دمياشتې(۲۵)
پرله پسې نمبر: (۱۱٦۸)

تاريخ نشر:( ۲۵) حوت سال ۱۳۹۳ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱٦۸)

**در این شماره :**


۱- قانون تنظیم سرپرستی وزارت ها و ادارات دولتی از صفحه (۱- ۴)

۲- تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون معادن صفحه (۵-۷)

۳- تعدیل ، ایزاد و الغاء در برخی از مواد قانون ثبت علایم تجارتی صفحه (۸-۱٦).

۴- تعدیل و حذف برخی از مواد قانون تدارکات صفحه (۱۷-۲۲)

۵- فهرست اسناد تقنینی منتشرۀ جریدۀ رسمی سال ۱۳۹۳ صفحه (۲۳-۴۰)

٦- مجموعۀ صفحات این شماره بشمول ابجد، متن و پشتی دارای (۵۸) صفحه.



| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند: | دعدلیې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۴۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه: بهیر

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباط‌عامه، چهارراهی پشتونستان

## د وزارتونو او دولتي ادارو د سرپرستۍ د تنظيم د قانون د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان

ګڼه: (۷۱)

نېټه: ۱۳/ ۱۲/ ۱۳۹۳

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اويايمې مادې د حکم له مخې، د وزارتونو او دولتي ادارو د سرپرستۍ د تنظيم قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۳ نېټې په غونډه کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شورې د لومړنۍ ناستې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، هغې شورې ته وړاندې کړي.

## فرمان تقنینی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون تنظیم سرپرستی وزارت ها و ادارات دولتی

شماره: (۷۱)

مؤرخ : ۱۳۹۳/۱۲/۱۳

مادۀ اول:

به تأسی ازحکم مادۀ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان، قانون تنظیم سرپرستی وزارت ها وادارات دولتی را که در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۳/۱۲/۱۲ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

مادۀ دوم:

وزیر عدلیه ووزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند ، این فرمان را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی به آن شورا تقدیم نمایند.

**درېیمه ماده:**

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او د کابینې له مصوبې او له نوموړي قانون سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**مادهٔ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابینه وقانون مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د وزارتونو او دولتي ادارو د سرپرستۍ د تنظيم د قانون په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه**

**گڼه: (۸)**

**نېټه: ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۳**

**د وزارتونو او دولتي ادارو د سرپرستۍ د تنظيم قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۳ نېټې په غونډه کې په (۷) مادو کې تصويب شوی دی، منظوروم.**

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبهٔ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان در مورد قانون تنظیم سرپرستی وزارت ها و ادارات دولتی**

**شماره: (۸)**

**مؤرخ : ۱۳۹۳/۱۲/۱۲**

**قانون تنظیم سرپرستی وزارت ها وادارات دولتی را که در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۳/۱۲/۱۲ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان بداخل(۷)ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**فهرست مندرجات**

**قانون تنظیم سرپرستی وزارت ها و ادارات دولتی**


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۱ |
| مادۀ چهارم: | حالات سرپرستی | ۲ |
| مادۀ پنجم: | حالات عدم تعیین سرپرست | ۳ |
| مادۀ ششم: | اعمال وظایف و صلاحیت ها | ۴ |
| مادۀ هفتم: | انفاذ | ۴ |

## د وزارتونو او دولتي ادارو د سرپرستۍ د تنظيم قانون

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د (۱۱) جزء او د يو نوي يمو او دوه نوي يمو مادو دحکمونو په پام کې نيولو سره، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱-د وزارت يا ادارې د ورسپارل شوو دندو په سرته رسولو کې له سکتګيو (ځند او خند) څخه مخنيوی.

۲-د وزارت يا ادارې د سرپرستۍ د چارو تنظيمول.

۳-د حکومت او ولسي جرګې تر منځ د همغږۍ رامنځته کول.

**اصطلاحګانې**

**دريمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحګانې په دې قانون کې لاندې مفاهيم افاده کوي:

## قانون تنظيم سرپرستی وزارت ها وادارات دولتی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون با رعایت احکام جزء(۱۱) مادۀ شصت و چهارم ومواد نود ویکم ونود ودوم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبات اند از:

۱-جلوگیری از سکتگی در اجرای وظایف محوله وزارت ویا اداره.

۲-تنظیم امور سرپرستی وزارت یا اداره.

۳-ایجاد هماهنگی میان حکومت و ولسی جرگه.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱-وزارت: مرکــزي اداره ده چــې د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د (۱۱) جزء د حکم مطابق، په سر کې يې وزير ټاکل کېږي.

۲-اداره: د لوېې ښارنوالۍ اداره، مرکزي بانک، د ملي امنيت لوی رياســت او د سرې مياشتې رياست پکې شاملېږي.

**د سرپرستۍ حالتونه**

**څلورمه ماده:**

(۱)جمهور رئيس په لاندې حــالتونوکې معينان، مرستيالان يا د شرطونو لرونکی بـــل شـــخص، د وزارت يـــا ادارې د سرپرست په توګه ټاکي.

۱-په هغه صورت کې چې د وزارت يـــا ادارې نوماند ونه توانېږي د بـــاور رايـــه ترلاسه کړي.

۲-د وزير يا د ادارې د مسئول د مړينې، استعفي، د باور د سلبېدو يا عـــزل پـــه صورت کې او يا داسې ناروغي چـــې د هغوی ددندې دترسره کولو خنډ وګرځي.

(۲) د سرپرستۍ موده ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالتونو کې، تـــر (۲) مياشتو پورې ده.

۱-وزارت: ادارۀ مرکزی است که طبق حکم جزء(۱۱) مادۀ شصت و چهــارم قانون اساسی افغانستان در رأس آن وزير تعيين می گردد.

۲- اداره:شامل اداره لوی څارنوالی ، بانک مرکزی ، رياست عمومی امنيــت ملی ورياست سره مياشت می باشد.

**حالات سرپرستی**

**مادۀ چهارم:**

(۱)رئيس جمهور در حالات آتی معينان، معاونان يا شخص واجد شرايط ديگر را به حيث سرپرست وزارت يا اداره تعيين می نمايد.

۱- در صورتيکه کانديد وزارت يا اداره نتوانـــد رأی اعتمـــاد را کســـب نمايد.

۲- در صورت وفات، استعفا، ســلب اعتماد يا عزل وزير يا مسئول اداره و يا مريضی که مانع اجرای وظيفــه آنهـــا گردد.

(۲) مدت سرپرستی در حالات مندرج فقـرۀ(۱) ايـن مـاده الـی(۲) مـاه می باشد.

(۳) جمهور رئیس ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې مودې په ترڅ کې د وزارت یا ادارې نوماند ولسي جرګې ته د باور رایې د ترلاسه کولو په موخه، ورپېژني.

(۴) که چېرې د وزارت یا ادارې ورپېژندل شوی نوماند ونه توانېږي له ولسي جرګې څخه د باور رایه ترلاسه کړي او یا په هغه صورت کې چې ملي شورې د تعطیل په حالت کې راشي، ددې مادې په (۲) فقره کې د سرپرستۍ درج شوې موده، تمدید شوې ګڼل کېږي، په دې صورت کې جمهور رئیس د یادې مودې په ترڅ کې، بل نوماند د باور رایې د ترلاسه کولو په موخه، ولسي جرګې ته ورپېژني. که چېرې بیا هم ورپېژندل شوی نوماند ونشي کولای د باور رایه ترلاسه کړي، د سرپرستۍ موده د بل نوماند د باور رایې ترلاسه کولو پورې، تمدید شوې ګڼل کېږي.

## د سرپرست د نه ټاکلو حالتونه

**پنځمه ماده:**

که چېرې د وزارت یا د ادارې نوماند د

(۳) رئیس جمهور در خلال مدت مندرج فقرۀ(۲) این ماده کاندید وزارت یا اداره راجهت کسب رأی اعتماد به ولسی جرگه معرفی می نماید.

(۴) هرگاه کاندید معرفی شده وزارت یا اداره ، نتواند رأی اعتماد را از ولسی جرگه کسب نماید ویا در صورتیکه شورای ملی در حالت تعطیل قرارگیرد، مدت سرپرستی مندرج فقرۀ(۲) این ماده تمدید شده پنداشته می شود، در این صورت رئیس جمهور درخلال میعاد متذکره کاندید دیگری را غرض کسب رای اعتماد به ولسی جرگه معرفی می نماید. هرگاه باز هم کاندید معرفی شده نتواند رأی اعتماد را کسب نماید، مدت سرپرستی الی کسب رأی اعتماد کاندید بعدی، تمدید شده تلقی می گردد.

## حالات عدم تعیین سرپرست

**مادۀ پنجم:**

هرگاه کاندید وزارت یا اداره از جانب

باور رايه ترلاسه نکړي يا وزير د دندې د سرته رسولو په بهير کې د ولسي جرگې له خوا د باور رايه له لاسه ورکړي، پــه هماغه وزارت يا اداره کې د سرپرست په توگه نشي ټاکل کېدای.

## د دندو او واکونو اعمالول

**شپږمه ماده:**

د وزارت يـــا د ادارې سرپرســـت ددې قانون د څلورمې مادې پـــه (۲،۳،او ۴) فقرو کې په درج شـــوو حـــالتونوکې، د اړوندو قوانينو په احکامو کې درج شوې دندې او واکونه، اعمالوي.

## انفاذ

**اوومه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي او په انفاذ سره يې، د ۲۱/ ۳/ ۱۳۹۰نېټې په (۱۰۵۱) گڼه رسمي جريده کې خپـــور شوی د وزارت د سرپرستۍ قانون، ملغي کېږي.

ولسی جرگه رأی اعتماد کسب نه نماید ویا وزیر در جریان اجـــرای وظیفـــه از طرف ولسی جرگه سلب اعتماد گردد، به حیث سرپرست در همان وزارت یـــا اداره تعیین شده نمی تواند.

## اعمال وظایف و صلاحیت ها

**مادۀ ششم:**

در حالات مندرج فقره های (۲، ۳ و۴) مادۀ چهارم این قانون، سرپرست وزارت یا اداره وظایف و صلاحیت های مندرج احکام قـــوانین مربـــوط را اعـــــمال می نماید.

## انفاذ

**مادۀ هفتم:**

این قانون از تـــاریخ توشـــیح نافـــذ و درجریدۀ رسمی نشرگردد وبا انفاذ آن قانون سرپرستی وزارت منتشرۀ جریـــدۀ رســـمی شـــماره (۱۰۵۱) مـــؤرخ ۱۳۹۰/۳/۲۱ ملغـــی می گردد.

## د کانونو د قانون په ځينو مادو کې د تعديل او ايزاد د توشيح په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه: (۴۴)

نېټه: ۲۰/ ۱۰/ ۱۳۹۳

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د(۱۶)فقرې دحکم له مخې، د کانونو د قانون په ځينو مادو کې تعديل او ايزاد د يادشوي قانون د (۱۰) مادې په (۵) فقره کې په ايزاد سره چې د ملي شوري د ولسي جرګې د ۱/ ۹/ ۱۳۹۳نېټې (۱۴۴) ګڼې او دمشرانو جرګې د۲۳/ ۹/ ۱۳۹۳نېټې(۱۴۱)ګڼې مصوبو پرېکړې پربنسټ تصويب شوی دی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان له تعديل او د ملي شوري له مصوبو سره

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون معادن

شماره: (۴۴)

تاريخ: ۱۳۹۳/۱۰/۲۰

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱۶) مادهٔ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون معادن را با ايزاد در فقرهٔ (۵) مادهٔ (۱۰) قانون مذکور که براساس فيصلهٔ مصوبات شماره (۱۴۴) مؤرخ ۱۳۹۳/۹/۱ ولسی جرگه وشماره(۱۴۱)مؤرخ ۱۳۹۳/۹/۲۳ مشرانو جرگه شورای ملی تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

مادهٔ دوم:

اين فرمان همراه با تعديل و مصوبات شورای ملی از

يوځای دي، په رسمي جريـــده کـــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذ شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

تاريخ نشر در جريـــدۀ رســـمی نافـــذ گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرګه

د کانونو د قانون په يو شمېر مادوکې

د تعديل او ايزاد مصوبه

ګڼه: (۱۴۴)

نېټه: ۱/ ۹/ ۱۳۹۳

ولسي جرګې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د نوي يمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ۱/ ۹/ ۱۳۹۳ نېټې د شنبې ورځې په عمومي غونډه کې د کانونو د قانون په يوشمېر مادوکې تعديل او د لسمې مادې په پنځمې فقرې کې د ايزاد او د يا د قانون د (۸۴) مادې اصل متن تأييد اوتصويب کړ.

عبدالرووف "ابراهيمي"

د ولسي جرګې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه تعدیل و ایزاد در

برخی از مواد قانون معادن

شماره: (۱۴۴)

تاریخ: ۱۳۹۳/۹/۱

ولسی جرگه به تأسی از حکم مندرج مادۀ نودم قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان، در جلسۀ عمومی روز شنبه مؤرخ ۱۳۹۳/۹/۱ خویش تعدیل در برخی مواد قانون معادن با ایزاد در فقرۀ پنج مادۀ دهم و تائید اصل متن مادۀ (۸۴) قانون متذکره را تصویب نمود.

عبدالرووف "ابراهیمی"

رئیس ولسی جرگه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

مشرانو جرګه

د کانونو د قانون په يو شمېر مادوکې د تعديل او ايزاد په هکله مصوبه

ګڼه: (۱۴۱)

نېټه: ۲۳/ ۹/ ۱۳۹۳

مشرانو جرګې داساسي قانون دنوي يمې مــادې لــه حکــم ســره ســم، د ۲۳/ ۹/ ۱۳۹۳ نېټې د يکشنبې ورځې په عمومي غونډه کې د کانونو د قانون په يوشمېر مادوکې د تعــديل او ايــزاد، د لسمې مادې (۵) فقرې کې ايزاد او د ياد قانون د (۸۴) مادې اصل متن په تأييــد سره د رأيو په اکثريت تصويب کړ.

فضل هادي "مسلميار"

د مشرانو جرګې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مشرانو جرگه

مصوبه در مورد تعديل و ايزاد برخی از مواد قانون معادن

شماره: (۱۴۱)

تاريخ: ۱۳۹۳/۹/۲۳

مشرانو جرگه به تأسی از حکم مــادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، در جلسۀ عمـــومی روز يکشــــنبه مــــؤرخ ۱۳۹۳/۹/۲۳ تعديل و ايزاد در برخی مواد قانون معادن را با ايزاد در فقرۀ (۵) مادۀ دهم و تائيد اصل متن مادۀ (۸۴) قانون متذکره به اکثريت آراء تصويب نمود.

فضل هادی "مسلميار"

رئيس مشرانو جرگه

## د کانونو د قانون په ځينو مادوکې تعديل او ايزاد

**لومړۍ ماده:**

د ۲۵/ ۵/ ۱۳۹۳ نېټې په (۱۱۴۳) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي د کانونو د قانون د درويشتمې مادې د (۵) فقرې (۱) جزءاو نهه ويشتمه ماده دې، په لاندې متونو تعديل شي.

**د منرالونو د پرمختيا قرارداد**

**درويشتمه ماده:**

۱- دهغه تګلارې ټاکل چې له هغې څخه په ګټې اخيستنې سره دولت وکولای شي خپله ونډه د بازار په نرخ لاسته راوړي.

**د جواز لېږدونه**

**نهه ويشتمه ماده:**

(۱) د اکتشافي، ګټې اخيستنې، او په کوچني مقياس معدنکارۍ د جواز لرونکی نشي کولای، د خپل جواز ټول يا د يوې برخې امتيازات، د کانونو او پطروليم وزارت له ليکلې موافقې څخه د مخه بل شخص ته ولېږدوي، پدې شرط چې منتقل اليه پدې قانون کې د درج شوو شرايطو

## تعديل و ايزاد دربرخی از مواد قانون معادن

**مادۀ اول:**

جزء (۱) فقرۀ (۵) مادۀ بيست وسوم و مادۀ بيست ونهم قانون معادن منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۱۴۳) مؤرخ ۱۳۹۳/۵/۲۵ به متون ذيل تعديل گردد.

**قرارداد انکشاف منرال ها**

**مادۀ بيست وسوم:**

۱- تعيين روشی که با استفاده از آن دولت بتواند سهم خويش را به نرخ بازار بدست آورد.

**انتقال جواز**

**مادۀ بيست ونهم:**

(۱) دارندۀ جواز اکتشافی، بهره برداری و معدنکاری به مقياس کوچک نمی تواند، تمام يا بخشی از امتيازات جواز خويش را قبل از موافقه کتبی وزارت معادن و پطروليم به شخص ديگر انتقال دهد، مشروط براينکه منتقل اليه واجد شرايط مندرج اين قانون بوده و تمام

وړوي او د جوازلرونکي ټول مکلفيتونه او په اړونده مقرره کې درج اټکل شوي شرايط ومني.

(۲) د تفحص، د حرفه يي معدنکارۍ جواز او د ډبرو د کانونو او د ودانيزو موادو اجازه ليک د لېږد وړ نه دي.

**دوه يمه ماده:**

**د کمېسيون دندې او واکونه**

**لسمه ماده:**

(۵) د رويالټۍ د فيصدي د ټاکلو شرطونه او معيارونه دې په جلا مقرره کې تنظيم شي.

**د ځانګړې کوډ اختصاصول**

**څلور اتيايمه ماده:**

د ماليې وزارت مکلف دی، له کان څخه د راټولو شويو عوايدو له مجموعې څخه پنځه سلنه د هغه ولايت يا ولايتونو چې کانونه په کې موقعيت لري، د خلکو د اقتصادي، ټولنيز او چاپېريالي ژوندانه د پرمختيا او ښه والي په منظور په مشخص کوډ او يا په وجهي صندوق کې پر تخصيص شوي مبلغ سربېره په ملي بودجه

مکلفيت های دارنده جواز و شرايط پيش بينی شده مندرج مقرره مربوط را بپذيرد.

(۲) جواز تفحص، معدنکاری حرفه ای و اجازه نامه معادن سنگ ومواد ساختمانی قابل انتقال نه می باشد.

**مادۀ دوم:**

**وظايف و صلاحيت های کميسيون**

**مادۀ دهم:**

(۵) شرايط و معيارهای تعيين فيصدی رويالتی در مقررۀ جداگانه تنظيم گردد.

**اختصاص کد مشخص**

**مادۀ هشتاد وچهارم:**

وزارت ماليه مکلف است، پنج فيصد از مجموع عوايد حاصله از معدن را به منظور انکشاف و بهبود شرايط اقتصادی، اجتماعی و محيط زيستی مردم ولايت يا ولاياتی که معادن درآن موقعيت دارد در کد مشخص و يا صندوق وجهی علاوه بر مبلغ تخصيص داده شده در بودجه ملی، اختصاص

کې اختصاص کړي.

**درېيمه ماده:**

دغه تعديل او ايزاد په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

دهد.

**مادۀ سوم:**

اين تعديل و ايزاد از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

## د سوداګریزو علامو د ثبت د قانون د ځینو مادو د تعدیل، ایزاد او الغاء د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۴۷)

نېټه: ۲۷/ ۱۰/ ۱۳۹۳

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د(۱۶)فقرې دحکم له مخې، دسوداګریزو علامو د ثبت د قانون په ځینو برخو کې تعدیل، ایزاد او الغاء چې د ملي شورې د ولسي جرګې د۷/ ۸/ ۱۳۹۳نېټې (۱۴۳)ګڼې او دمشرانو جرګې د۱۱/ ۹/ ۱۳۹۳نېټې(۱۳۷)ګڼې مصوبو پربنسټ تصویب شوی دی، توشېح کوم.

دوه یمه ماده:

دغه فرمان له تعدیل او د ملي شورې له مصوبو سره یوځای دې، په رسمي جریده کې دخپرېدو له نېټې څخه نافذ شي.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح تعدیل، ایزاد و الغای برخی از موادقانون ثبت علایم تجارتی

شماره: (۴۷)

تاریخ: ۱۳۹۳/۱۰/۲۷

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱۶) مادهٔ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، تعدیل، ایزاد و الغاء در برخی از مواد قانون ثبت علایم تجارتی را که به اساس مصوبات شماره (۱۴۳) مؤرخ۱۳۹۳/۸/۷ ولسی جرگه وشماره(۱۳۷)مؤرخ ۱۳۹۳/۹/۱۱ مشرانو جرگه شورای ملی تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

مادهٔ دوم:

این فرمان همراه با تعدیل و مصوبات شورای ملی از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرگه

مصوبه

د سوداگريزو نښو (علامو) د ثبت د قانون په يو شمېر مادوکې تعديل، ايزاد او الغاء

گڼه: (۱۴۳)

نېټه: ۷/ ۸/ ۱۳۹۳

ولسي جرگې دافغانستان اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د نوي يمې او اووه نوي يمې مادوکې له درج شوي حکم سره سم، د ۷/ ۸/ ۱۳۹۳ نېټې د چهارشنبې ورځې په عمومي غونډه کې د سوداگريزو نښو (علامو) د ثبت د قانون په يوه شمېر مادو کې تعديل، ايزاد او الغاء د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت تصويب کړ.

الحاج عبدالرووف "ابراهيمي"

د ولسي جرگې رئيس

دولت جمهورى اسلامى افغانستان

شوراى ملى

ولسى جرگه

مصوبه

تعديل، ايزاد و الغاء برخى از مواد قانون ثبت علايم تجارتى

شماره: (۱۴۳)

تاريخ: ۱۳۹۳/۸/۷

به تأسى از حکم مندرج مادۀ نودم و نود وهفتم قانون اساسى جمهورى اسلامى افغانستان، ولسى جرگه در جلسۀ عمومى روز چهارشنبه مؤرخ ۱۳۹۳/۸/۷ خويش تعديل، ايزاد و الغاء در برخى از مواد قانون ثبت علايم تجارتى را به اکثريت آراى حاضر مجلس تصويب نمود.

الحاج عبدالرووف "ابراهيمى"

رئيس ولسى جرگه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

مشرانو جرگه

مصوبه

د سوداگريزو نښنو (علامو) د ثبت د قانون په ځينو مادو کې د تعديل، ايزاد او الغاء په هکله

گڼه: (۱۳۷)

نېټه: ۱۱/ ۹/ ۱۳۹۳

مشرانو جرگې د افغانستان داساسي قانون دنوي يمې مادې له حکم سره سم، د ۱۱/ ۹/ ۱۳۹۳ نېټې په عمومي غونډه کې د سوداگريزو نښنو (علامو) د ثبت د قانون په ځينو مادوکې د تعديل، ايزاد او الغاء د رأيو په اکثريت تصويب کړ.

فضل هادي "مسلميار"

د مشرانو جرگې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مشرانو جرگه

مصوبه

در مورد تعديل، ايزاد و الغای برخی از مواد قانون ثبت علايم تجارتی

شماره: (۱۳۷)

تاريخ: ۱۳۹۳/۹/۱۱

به تأسی از حکم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، مشرانو جرگه تعديل، ايزاد و الغای برخی از مواد قانون ثبت علايم تجارتی را، در جلسهٔ عمومی مؤرخ ۱۳۹۳/۹/۱۱ خويش به اکثريت آراء تصويب نمود.

فضل هادی "مسلميار"

رئيس مشرانو جرگه

## د سوداګريزو نښنو (علامو) د ثبت د قانون په ځينو مادو کې تعديل، ايزاد او الغاء

**لومړۍ ماده:**

د۱۳۸۸کال په (۹۹۵)ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي دسوداګريزو نښنو(علامو) د ثبت د قانون د درېيمې مادې (۲) جزء، د يوولسمې مادې (۱) فقره، د ديارلسمې مادې (۱) فقره، داتلسمې مادې (۲) فقرې (۷) جزء، يوويشتمه ماده، د دوه ويشتمې مادې (۴) جزء، پنځه ويشتمه ماده، د شپږ ويشتمې مادې (۱ او ۲) فقرې، دېرشمه ماده او د يو دېرشمې مادې (۱) فقره دې، په لاندې ډول تعديل شي:

**د درېيمې مادې (۲) جزء:**

۲- مشهوره نښه: هغه نښه ده چې په زياته او پراخه توګه ملي او نړيوال ماركيټ كې پېژندل شوې وي.

**د يوولسمې مادې (۱) فقره:**

(۱) د مركزي ثبت دفتر(د سوداګريزو علامو دثبت برخه) مكلفه ده،

## تعديل، ايزاد والغاء در برخی از مواد قانون ثبت علايم تجارتی

**مادۀ اول:**

جزء(۲) مادۀ سوم ، فقرۀ (۱) مادۀ يازدهم، فقرۀ(۱) مادۀ سيزدهم، جزء (۷) فقرۀ (۲) مادۀ هجدهم، مادۀ بيست ويكم ، جزء (۴) مادۀ بيست ودوم ، مادۀ بيست وپنجم، فقره های (۱و۲) مادۀ بيست وششم، مادۀ سی ام و فقرۀ (۱) مادۀ سی و يكم قانون ثبت علايم تجارتی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۹۹۵) سال ۱۳۸۸ ذيلاً تعديل گردد:

**جزء(۲) مادۀ سوم:**

۲- علامت مشهور: علامتی است كه به شكل گسترده و وسيع در ماركيت ملی و بين المللی شناسائی شده باشد.

**فقرۀ (۱) مادۀ يازدهم:**

(۱) دفتر ثبت مركزی (بخش ثبت علايم تجارتی ) مكلف است، درخواست ها را

غوښـــتنليکونه د ډول، ماهيــــت او ددې قانون له حکمونو سره د هغهٔ د مطابقت له نظره څېړي او د ترلاسه کېدو له نېټــې څخه د (۳۰) کاري ورځو په ترڅ کې، تأييد يا رد وي.

که چېرې غوښتنليک رد شي، د ثبت دفتر دلايل يې غوښتنليک کوونکي ته په ليکلي ډول خبر ورکوي، پدې صــورت کـــې غوښتنليک کوونکی کـــولای شـــي، د غوښتنليک د رد له نېټې څخـــه د (۳۰) کاري ورځو په ترڅ کې، د هغهٔ په اصلاح اقدام او بيا يې د مرکزي ثبت دفتر تـــه وړاندې او يـــا د ســـيمې ســـوداګريزې محکمې ته مراجعه وکړي.

د ديارلسمې مادې (۱) فقره:

(۱) که چېرې سوداګريز علامـــت پــه مالونو، محصولاتو يا خدمتونو کې چې د هغو د تشخيص په مقصد ثبـــت شـــوي، بدلونونه راشي، د ســـوداګريز علامـــت مالک مکلف دی د بدلون له ورځې څخه يې د (۳۰) کاري ورځو په ترڅ کـــې، ددې قانون د حکمونو مطابق د مرکـــزي ثبت په دفتر کې ثبت کړي، پرته لدې د

از نظرشـــــکل، ماهيــــت ومطابقــــت آن با احکام اين قانون بررسی نموده و در خـــلال (۳۰) روزکاری از تـــاريخ در يافـــت ، آنـــرا تائيـــد يـــا رد می نمايد.

هرگاه در خواست رد گردد، دفتر ثبت دلايل آنرا به در خواست کننده طـــور کتبی اطلاع می دهد، در اين صورت در خواست کننده می تواند، در خـــلال (۳۰) روز کـــاری از تـــاريخ رد در خواست به تصحيح آن اقدام و مجدداً آنرا به دفتر ثبت مرکزی ارائه ويا بـــه محکمـــه تجـــارتی محـــل مراجعـــه نمايد.

فقرهٔ (۱) مادهٔ سيزدهم:

(۱) هرگاه درعلامـــت تجـــارتی يـــا امـــوال، محصولات يا خدماتی که بـــه مقصد تشخيص آنها ثبـــت گرديـــده، تغييرات وارد گردد ، مالـــک علامـــت تجارتی مکلف است آنرا از روز تغييـــر درخلال (۳۰) روزکاری دردفترثبـــت مرکزی مطابق احکام اين قانون ثبـــت نـــمايـــد، در غـــير آن مـــدار اعتبار

اعتبار ور ندی.

د اتلسمې مادې د (۲) فقرې (۷) جزء:

۷- د مالک شغل.

یو ویشتمه ماده:

د سوداګریز علامت مالکیت په هغه شخص پورې اړه پیداکوي چې لومړی ځل یې هغه استعمال کړی وي، خوداچې په محکمه کې یې خلاف ثابت شي. مشهوره نښه لدې حکم څخه مستثنې ده.

د دوه ویشتمې مادې (۴) جزء:

۴- که چېرې هغه سوداګریزعلامت چې په دریو پرله پسې کلونو کې استعمال شوی نه وي، د بل شخص لخوا د هغه د استعمال غوښتنه وشي، محکمه کولای شي لومړني شخص ته د خبرتیا رسونې څخه وروسته د غوښتونکي شخص په ګټه حکم صادر کړي، خوداچې مخکینی مالک یې د نه استعمال په اړه مؤجه دلایل وړاندې کړي.

د مالک په اجازه او کنترول د ذینفع شخص په واسطه د سوداګریز علامت

نمی باشد.

جزء(۷ )فقرۀ (۲) مادۀ هجدهم:

۷- شغل مالک.

مادۀ بیست ویکم:

مالکیت علامت تجارتی به شخص تعلق می گیرد که اولین بار آنرا استعمال نموده باشد، مگراینکه در محکمه خلاف آن ثابت گردد. علامت مشهوراز این حکم مستثنی است.

جزء (۴) مادۀ بیست ودوم:

۴- علامت تجارتی ایکه در سه سال متوالی استعمال نشده باشد ، از طرف شخص دیگری تقاضای استعمال آن به عمل آید، محکمه می تواند بعد از اطلاع رسانی به شخص اولی، بنفع شخص متقاضی حکم صادر نماید، مگر اینکه مالک قبلی دلایل مؤجه را مبنی بر عدم استعمال آن ارائه نماید.

استعمال علامت تجارتی توسط شخص ذینفع به اجازه وکنترول مالک

استعمالول د ثبت د دوام په عنوان ګڼل کېږي.

**پنځه ويشتمه ماده:**

شخص په لاندې حالاتو کې کولای شي، د سوداګريز علامت د ثبت د غوښتنليک او يا لغو په هکله يې، اعتراض وکړي:

۱- په داسې حال کې چې مخکينی مالک، نوموړی سوداګريز علامت خپل ځانته ادعاء وکړي.

۲- په داسې حال کې چې، غوښتل شوی سوداګريز علامت د خپل سوداګريز علامت په ورته ډول ادعاء وکړي چې تفکيک يې مستهلکينو لپاره ستونزمن وي.

**د شپږ ويشتمې مادې (۱ او ۲) فقرې:**

(۱) ګټه لرونکي اشخاص يا د هغوی قانوني استازی کولای شي، خپل ليکلی اعتراض، په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه د (۲۱) کاري ورځو په ترڅ کې، دمرکزي ثبت دفتر ته وړاندې کړي.

(۲) د مرکزي ثبت دفتر مکلف دی، د اعتراض د ترلاسه کولو له نېټې څخه د (۱۰) کاري ورځو په ترڅ کې، د هغه

به عنوان تداوم ثبت شناخته می شود.

**مادۀ بيست وپنجم:**

شخص درحالات ذيل می تواند، درمورد در خواست ثبت علامت تجارتی و يا لغو آن، اعتراض نمايد:

۱- در حاليکه مالک قبلی، علامت تجارتی مذکور را بخود ادعاء نمايد.

۲- در حاليکه، علامت تجارتی در خواست شده را بنحوی شبيه علامت تجارتی خود ادعا ء نمايد که تفکيک آن برای مستهلکين دشوار باشد.

**فقره های (۱و۲) مادۀ بيست وششم:**

(۱) اشخاص ذينفع يا نمايندۀ قانونی آنها می توانند، اعتراض کتبی خويشرا در خلال (۲۱) روز کاری بعد از نشر در جريدۀ رسمی به دفتر ثبت مرکزی ارائه نمايند.

(۲) دفتر ثبت مرکزی مکلف است، در خلال (۱۰) روز کاری از تاريخ دريافت اعتراض، نقل آنرا به درخواست کنندۀ

نقل د سوداګریز علامت د ثبت غوښتنلیک کوونکي ته چې د هغه پرضد اعتراض شوی، وړاندې کړي.

**د ثبت شوي سوداګریز علامت لغو**

**دېرشمه ماده:**

(۱) د سوداګریز علامت په ثبت پورې د اړوندې دعوي د اورېدو یا څېړنې لپاره وخت یوکال دی، هغه اشخاص چې د سوداګریز علامت د ثبت له نېټې څخه د یادې شوې مودې په ترڅ کې د هغه په هکله اعتراض ونکړي، دعوي یې د اورېدو وړ نه ده .

(۲)ثبت شوي علامت د مرکزي ثبت دفتر لخوا ددې قانون د حکمونو مطابق لغو کېږي.

(۳) د ثبت شوي سوداګریز علامت د لغو غوښتنلیک د ثبت له نېټې څخه یې تر دوو کلونو پورې دی.

مشهوره نښه له دې حکم څخه مستثني ده.

(۴)په هغه صورت کې چې سوداګریز علامت چې په بد نیت ثبت شوی وي، د لغو د غوښتنلیک د وړاندې کولو لپاره د

ثبت علامت تجارتی که علیه وی اعتراض صورت گرفته ، ارائه نماید.

**لغو علامت تجارتی ثبت شده**

**مادۀ سی ام:**

(۱) زمان برای استماع یا رسیدگی دعوی مربوط به ثبت علامت تجارتی یک سال می باشد، اشخاص که در خلال مدت مذکور از تاریخ ثبت علامت تجارتی در مورد آن اعتراض ننمایند، دعوی شان قابل سمع نمی باشد.

(۲) علامت ثبت شده از طرف دفتر ثبت مرکزی مطابق احکام این قانون لغو می گردد.

(۳) درخواست لغو علامت تجارتی ثبت شده از تاریخ ثبت آن الی دو سال می باشد.

علامت مشهور از این حکم مستثنی است.

(۴) در صورتی که علامت تجارتی با سوء نیت، ثبت شده باشد، محدودۀ زمانی جهت ارائه درخواست لغو در نظر

وخت محدوده په پام کې نه نيول کېږي.

يو دېرشمه ماده:

(۱) شخص د لاندې مواردو له يوه څخه د سرغړونې په صورت کې، له احوالو سره سم د رسېدلي زيان په متناسب، د زيان په جبرانولو محکومېږي:

۱- په يو شان او ورته اجناسو او خدمتونو پورې اړوند له ثبت شوو جغرافيايي نښانونو څخه په ګټې اخيستنې سره، دسوداګرۍ په بهير کې د سوداګريز علامت غير مجاز ګټه اخيستنه.

۲- د جعلي يا تقليد شوي سوداګريز علامت عمدي استعمالول.

۳- په خپلو سوداګريزو توليداتو کې د مالک له رضايت پرته، د ثالث شخص د سوداګريز علامت استعمالول.

۴- د جعلي، تقليدي علامت لرونکو يا غير مجازو اجناسو، محصولاتو يا خدمتونو عمدي پلورل، پلورنې ته وړاندې کول، رواجول يا په واک کې لرل.

۵- ددې قانون په اتمه ماده کې د درج شوي علامت استعمالول.

۶- په اجناسو، محصولاتو يا خدمتونو

گرفته نمی شود.

مادۀ سی ویکم:

(۱) شخص در صورت تخلف یکی از موارد ذیل، حسب احوال متناسب به ضرر وارده به جبران خساره محکوم می گردد:

۱- استفادۀ غیر مجاز علامت تجارتی در جریان تجارت، با استفاده از نشانه های جغرافیائی ثبت شدۀ مربوط به اجناس یا خدمات یکسان یا مشابه.

۲- استعمال عمدی علامت تجارتی جعلی یا تقلید شده .

۳- استعمال علامت تجارتی شخص ثالث، بدون رضایت مالک آن در تولیدات تجارتی خویش.

۴- فروش عمدی ، عرضه به فروش، ترویج یا در تصرف داشتن اجناس، محصولات یا خدمات دارای علامت جعلی، تقلیدی یا غیر مجاز.

۵- استعمال علامت مندرج مادۀ هشتم این قانون.

۶- ذکر مدال ها، دیپلوم ها،

کې د مډالونو، ډيپلومونو، جايزو يا افتخاري (وياړمنو) القابو کوم چې په هغو پورې اړه نلري يا د هغو بنسټونو يا نومونو په هکله چې اصلاً ترلاسه کړي نه دي، يادول.

۷- د ننداريې ورې اجناسو، محصولاتو او ګډو خدمتونو ته له اختصاص شوو امتيازونو څخه ګټه اخيستنه، خوداچې د نوموړو امتيازونو سرچينه او ماهيت په څرګنده توګه بيان شوی وي.

۸- د اجناسو، محصولاتو يا پر اجناسو باندې د ثابتو خدمتونو په توليد کې د يوې ځانګړې شهرت لرونکې جغرافيايي ساحې د نښان استعمالول، پداسې ډول چې محصولات، يا خدمتونه په هغه ساحه کې توليد يا رامنځته شوي دي، د خلکو د اغفال سبب شي.

دوه يمه ماده:

په دريمه ماده کې (۱ او۸) اجزاوې، په شپږمه ماده کې (۲) فقره او په اتمه ماده کې (۱۳ او۱۴) اجزاوې دې په لاندې متنونو ايزاد شي:

جوايز يا رتب افتخاری در اجناس، محصولات يا خدمات که مربوط به آنها نباشد يا در مورد نهاد يا اسامی که اصلاً کسب نکرده است.

۷- استفاده از امتيازات اختصاص يافته به اجناس، محصولات دارای نمايش وخدمات مشترک، مگر اينکه منبع و ماهيت امتيازات متذکره طور واضح بيان شده باشد.

۸- استعمال نشان جغرافيائی يک ساحه دارای شهرت خاص در توليد اجناس، محصولات يا خدمات ثابت بر اجناس به نحويکه، محصولات يا خدمات درآن ساحه توليد يا ايجاد گرديده است، سبب اغفال مردم گردد.

مادۀ دوم:

اجزای (۱و۸)در مادۀ سوم ، فقرۀ (۲)در مادۀ ششم و اجزای(۱۳ و۱۴) در مادۀ هشتم به متون ذيل ايزاد گردد:

د دریيمې مادې (۱ او ۸) اجزاوې:

۱- سوداګريز نوم: هغه نوم يا عنوان دی چې د حقيقي يا حکمي شخص معرف او مشخص کوونکی وي.

۸- ټوليز (دسته جمعي) علامت: هغه علامت دی چې انجمنونه يا اتحاديې د منل شوو ستندردونو له په پام کې نيولو سره، د جغرافيايي منشاء د تفکيک لپاره، مواد يا توليدات او يا د مالونو يا خدمتونو ځانګړتياوې، د نورو انجمنونو يا اتحاديو له توليداتو يا خدمتونو څخه د ګټې اخيستنې وړ ګرځي.

د شپږمې مادې (۲) فقره:

(۲) هغه انجمن او اتحاديه چې د استعمالوونکو له خوا د اجراء وړ ستندردونو د رعايتولو مسئول دي، کولای شي ددې قانون د حکمونو مطابق، د دسته جمعي علامت د ثبت غوښتنه وکړي.

د اتمې مادې (۱۳ او ۱۴) اجزاوې:

۱۳- هغه ورته اړوندو اجناسو او خدمتونو ثبت شوي سوداګريزې علامې او نښانونه چې ورته والی ولري، خوداچې د

اجزای (۱و۸) مادۀ سوم:

